# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمېره:** ۴۲- ۱۳۹۳

**موضوع:** د رأيي ورکوني د ۴۲۳۸ محلونو د رأيو د تفتيش پايلې؛

**ځانګه:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ کال د وږي۹مه، (د ۲۰۱۴ کال د اګست ۳۱ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

**حاضر غړي:** ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالۍ اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري او آغلې شریفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مې مادې، د ټاکنو قانون د ۵۸ مې مادې د حکمونو او د خپلو ۳۳ او ۳۷ شمېره پرېکړه لیکونو پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رأيي ورکوني د ۴۲۳۸ محلونو رأیو د تفتيش د پايلو په اړه ، په دريو کټګوريو کې چې لړلیک ( فهرست) او ځانګړنې يې له دغه پرېکړه لیک سره ضميمه دي، په لاندې توګه پرېکړه وکړه:

۱ . د رأيي ورکوني ۱۸۳۷ محلونه چې د تفتيش په پايله کې هيڅ ډول بې نظمي او ستونزه په کې ونه ليدل شوه،نورمال دي، کومه ستونزه نه لري او پروسس دې شي؛
۲. د رأيي ورکوني د ۲۱۶۵ محلونو بیاشمېرنه چې ۱۲۵۰ هغه يې په ځانګړي تفتيش پورې اړه لري، تأیيد ده او په دغه بهير کې دې شامل شي:

**د رأيي ورکوني د عادي صندوقونو د بیاشمېرنې دلايل:**

۱. . د رأيي ورکوني ۹۳ محلونه په صندوقونو کې د پايلو فورمو د کاپي نشتوالي او يا هم د لاسوهنې د شواهدو د شتون له امله.

۲. د رأيي ورکوني ۲۶۵ محلونه په پايلو فورمو کې له ۶۰۰ څخه د زياتو رأيو د ثبت له امله.

۳. د رأيي ورکوني ۳۰۰ محلونه په پايلو فورمو کې له ۶۰۰ څخه د زياتو رأيو د ثبت، د پايلو د اصلي فورمو او په صندوق دننه د پايلو فورمو د کاپي تر منځ د توپير او د صندوقو د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه د زياتو مهر او لاکونو د تخريب او ماتيدو له امله؛ يا د دې له پاره چې د صندوق د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه زياتو مهر او لاکونو شمېرې په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو فورمو له شمېرو سره سمون او مطابقت نه درلود .

٤. د رأيي ورکوني ۱۴ محلونه د پايلو د اصلي فورمو او په صندوق کې دننه د پايلو فورمو له کاپي تر منځ د توپير له امله.

٥. د رأيي ورکوني ۵۳ محلونه د رأيي ورکوونکيو لیست د سپين والي او يا په ليست کې له ۱۰ څخه د زياتو پرله پسې شمېرو د ثبت له امله.

۶. د رأیي ورکوني ۱۲ محلونه له دې امله چې صندوقونه یې دومره مات او تخریب شوي او یا یې مهر او لاکونه دومره سست دي چې لاس په کې دننه کیدی شي.

۷. د رأیي ورکوني یو محل د پایلو فورمي او د رأیي ورکوونکیو د لیست تر منځ د ۵۰٪ توپیر له امله.

۸. د رأیي ورکوني ۱۷۷ محلونه له دې امله چې کم له کمه ۲۰ رأیپاڼي یې ورته نښه شوې او یا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، همدارنګه د پایلو فورمو د کاپي د نشتوالي، په پایلو فورمو کي له ۶۰۰ څخه د زیاتو رأیو د ثبت، د صندوقونو د شاوخوا د ماتیدو او تخریب او د رأیي ورکوونکیو لیسټ د نشتوالي یا پرله پسي شمېرو د ثبت له امله.

۳ . د رأیي ورکوني د ۲۳۶ محلونو د ټولو رأیو د ابطال تأیید دي چې ۴۵ هغه یې په ځانګړي تفتیش پوري اړه لري:

**الف. د عادي تفتیش د صندوقونو د ابطال دلایل:**

۱. د رأیي ورکوني یو محل له دې امله چې د صندوق ډول یا بڼه یې هغسي نه وه چې د کمیسیون له خوا د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور له پاره وېشل شوي وو.

۲. د رأیي ورکوني ۱۵۵ محلونه له دې امله چې په صندوق کې هیڅ رأیي پاڼي نه وې موجودې، یا یې رأیي پاڼي مهر شوې نه وې، یا یې ټولي رأیي پاڼي د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، یا ټولي هغه په ورته بڼه نښه شوي او یا هم له کندې څخه نه دي بېلي شوې.

۳. د رأیي ورکوني ۲۰ محلونه له دې چې د رأیي ورکوني محلونو په ژورنال کې د زور زیاتي، جګړې او د کمیسیون د کارکوونکیو له کنټرول څخه د ټاکنیزو توکیو له لاسه وتلو په اړه ریپورټ ورکړل شوی وو.

٤. د رأیي ورکوني یو محل له دې امله چې د رأیي ورکوونکیو لیست یې ورک یا سپین وو او یا هم ۳۳ سلنه رأیي پاڼي یې مهر شوې نه وې، یا د طرزالعمل مطابق نه وې نښه شوې، یا په ځرګنده توګه ورته نښه شوې وې او یا هم له کندې څخه نه وې بېلي شوې.

۵. د رأیي ورکوني دوه محلونه له دې امله چې صندوقونه یې دومره مات او تخریب شوی چې لاس په کې ننوځي او یا هم د پایلو په فورمو یا د رأیي پاڼو په بنډلونو کې یې د ښکاره لاسوهني شواهد موجود دي.

۶. د رأیي ورکوني ۹ محلونه له دې امله چې د صندوق د شاوخوا د دوو یا له دوو څخه زیاتو مهر او لاکونو شمېرو په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمو له شمېرو سره سمون نه لري او د پایلو په فورمو او د رأیي پاڼو په بنډولو کې یې د لاسوهني ښکاره شواهد موجود دي.

۷. د رأیي ورکوني ۳ محلونه له دې امله چې د رأیي ورکوونکیو په لیسټونو کې یې لس یا لسو څخه زیاتي پرله پسي شمېرې ثبت شوې، یا یې ۳۳ سلنه رأیي پاڼي ورته نښه شوې او یا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې.

**ب. د ځانګړي تفتیش صندوقونو د ابطال دلایل:**

۱. د رأیي ورکوني یو محل له دې امله چې د صندوق ډول یا بڼه یې هغسي نه وه چې د کمیسیون له خوا د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور له پاره وېشل شوي وو.

۲. د رأیي ورکوني ۱۵ محلونه له دې امله چې په صندوق کې هیڅ رأیي پاڼي نه دي موجودې، یا یې رأیي پاڼي مهر شوې نه دي، یا ټولي رأیي پاڼي د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، یا ټولي هغه په ورته بڼه نښه شوې او یا هم له کندې څخه نه دي بېلي شوې.

۳. د رأیي ورکوني ۸ محلونه له دې امله چې د رأیي ورکوني محلونو په ژورنال کې د زور زیاتي، جګړې او د کمیسیون د کارکوونکیو له کنټرول څخه د ټاکنیزو توکیو د وتلو په اړه ریپورټ ورکړل شوی وو.

٤. د رأیي ورکوني ۶ محلونه له دې امله چې د رأیي ورکوونکیو په لیسټونو کې لس یا لسو څخه زیاتي پرله پسي شمېرې ثبت شوې وې، یا یې ۳۳ سلنه رأیي پاڼي ورته نښه شوې او یا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې.

۵. د رأیي ورکوني دوه محلونه له دې امله چې صندوقونه یې دومره مات و تخریب شوی چې لاس په کې ننوځي او یا هم د پایلو په فورمو یا د رأیي پاڼو په بنډلونو کې یې د ښکاره لاسوهني شواهد موجود دي.

٦. د رأيي ورکوني ۱۳ محلونه له دې امله چې د صندوق د شاوخوا د دوو یا له دوو ښخه زیاتو مهر او لاکونو شمېرو په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره سمون نه لري او د پایلو په فورمو او د رأیي پاڼو په بنډولو کې یې د لاسوهنې ښکاره شواهد موجود دي.

| د پرېکړې مخالف | د غړیو نومونه | د پرېکړې موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتی وردک | |